مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۰۴

د ماشومانو لپاره لنډۍ

د درېیمې کټګورۍ ماشومانو لپاره

موري نانځکه راته راوړه
چې دا به ژاړي زه يې غېږ کې ويدومه

مور مې نانځکې ته غوسه ده
زه يې په پټه په تخرګ کې ګرځومه

بنګړي مې خود به ښايسته وي
دا مې لالا له پېښور راوړي دينه

بنګړي مې تور او سره، زرغون دي
زه مې بيرغ د وطن لاس کې ګرځومه

زه مې مور جاني ته ډېر ګران يم
راته لګيا ده ښکلي غاړه رغوينه

ابا ته ټول بچي به ګران وي
چې ما ته ګوړې، ګوړې وايي خوند کوينه

کمکی لالا مې راته ګران دی
چې څه شی واخلي راسره يې نيموينه

موټرك ښه دی سات مې تېر وي
ورك دې ټوپك شي چې مرمۍ به ډزوينه

مور مې په دواړو مخو ښکل کړم
ما الف بې له سپارې زده کړي دينه

بې او الف، بې او الف وي
چې سره يو شي نو بابا به جوړوينه

مور جاني ستا نوم مې زده کړی
ميم، واو، ری چې سره يوځای وليکمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ